UNAMA
د یوناما مطبوعاتي بیانیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د افغانستان خلکو ته د ملګرو ملتونو د ځانګړې استازې ډیبرا لاینز د مخې ښې وینا**

**کابل، د ۲۰۲۲ کال د جون ۱۶مه -** کله چې ما دا دنده په غاړه واخیسته نړۍ خورا یو بل ډول ځای و، په یوه پیړۍ کې یو ځل پېښېدونکې وبا سره مخ شوم چې زموږ د کارکولو طریقې او نړیوال لومړیتوبونه یې بدل کړل. ما د ۲۰۲۲ کال په اپریل کې دنده پیل کړې وه خو د همدې کال د مې میاشتې تر پای پورې افغانستان ته له سفر کولو څخه منعه شوې وم. په دغه وخت کې افغانستان د ۲۰۲۰ کال په فبرورۍ کې د دوحې تړون د پلي کېدو او بیا د ۲۰۲۱ کال د اپریل په میاشت کې د بایډن د ادارې له خوا د دغه تړون له مخې د همدې کال د اګست تر پایه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو په حال کې و.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت په سقوط د دوحې د تړون د اغیزو په اړه تر دې مخکې هم ډېر تحلیلونه شوي دي. کله چې مورخین د شواهدو راټولول پیل کړي له شک پرته چې ډېرنور څه به هم وي. دلته د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې په توګه د جمهوریت په وروستیو میاشتو کې، زما لپاره د توقع خلاف تجربه وه.

هغه مهال زموږ ستراتیژي دا وه چې په دوحه کې د سولې د پروسې د پلي کولو لپاره هر ممکن کار ترسره کړو. دا تر هر څه دمخه، د مذاکراتو دفضا د ساتلو لپاره د افغان دولت څخه د ملاتړ په معنی و. موږ د نوامبر په میاشت کې په جنیوا کې سره ولیدل چې د افغانستان لپاره د تمویل دوام ډاډمن کړو، چې بسپنه ورکوونکو د څلورو کلونو په موده کې د شاوخوا ۱۳ ملیارد امریکایي ډالرو ژمنه وکړه. موږ ډېر وخت د بین الافغاني مذاکراتو په تقویه کولو، د باور په جوړولو او د سیمه ییزې اجماع په رامنځته کولو تېر کړ.
بریالیتوب به د جمهوریت او طالبانو ترمنځ د یوه موقت حکومت په اړه موافقه وه چې طالبان پکې شامل وای، چې دې به جمهوریت ټولشموله او همدارنګه د بشري، مدني، سیاسي او ښځو حقونو په برخه کې لاسته راوړنې خوندي کړې وې. دا کار ناشونی ثابت شو او جمهوریت حتی د نړیوالو ځواکونو له وتلو مخکې سقوط وکړ.

په داسې حال کې چې سقوط ورځ تر بلې حتمي شو، او ډیرو سفارتونو د خپلو کارکونکو په ویستلو پیل وکړ، یوناما او د ملګرو ملتونو کورنۍ پریکړه وکړه چې پاتې شي او چارو ته دوام ورکړي. موږ هم د ملیونونو افغانانو په څیر چې کله د ولسمشر غني له تښتیدلو او کابل ته د طالبانو له را ننه کیدو خبر شو اندیښمن وو. موږ له وړاندې په کندهار، مزار شریف، جلال آباد او فیض آباد کې په خپلو دفترونو کې د طالبانو تر واک لاندې کارکونکي درلودل. موږ ډیر خوښ و چې د ملګرو ملتونو کارکونکو ته هیڅ ډول زیان نه و رسیدلی او په حقیقت کې طالبانو د نویو چارسنبالو په توګه د دوی د خوندیتوب دډاډمن کولو ژمنې ته درناوی وکړ.

خو د طالبانو واک په بشپړه توګه نوې ستونزې وزیږولې. تر ټولو سملاسي راتلونکې ژمی او د ملیونونو افغانانو جدي زیانمنتیا وه چې وار له مخه د کلونو وچکالۍ له امله د پام وړ خوراکي ناخوندیتوب سره مخامخ وو. د تاوتریخوالی کمښت موږ ته وړتیا راکړه چې د هیواد ډیرو برخو ته لاسرسی ولرو چې پخوا مو نه ورته درلود. هغه کنفرانس چې د سپټمبر په میاشت کې په جینیوا کې د سرمنشي لخوا رابلل شوی و د ژمي په اوږدو کې یې د بشردوستانه مرستو د پوښښ لپاره یو ملیارد ډالر راټول کړل. خو زموږ مقابل لوری داسې یو حکومت و چې د نړیوالې ټولنې لخوا په رسمیت نه و پېژندل شوی او ډیری لوړپوړي چارواکي یې د ملګرو ملتونو او نورو هېوادونو له خوا تر بندیزونو لاندې وو. دې بندیزونو او د نړیوال مالي ملاتړ لغوه کیدلو سملاسي کار ته اړتیا لرله چې د بانکوالۍ په سکتور کې د نغدو پیسو بحران حل کړي، موږ وشو کولی د نغدو پیسو په واردولو بشردوستانه چارې سر ته ورسوو. ددې په پایله کې نږدې ۲۰ ملیون خلکو یو نه یو ډول مرستې ترلاسه کړې او اقتصاد په داسې حال کې چې خورا کمزوری و، په بشپړ ډول سقوط ونه کړ.

په سیاسي لحاظ، یوناما دې پایلې ته ورسیده چې د ښځو د حقونو، د رسنیو دازادۍ او د ټول شموله سیاسي استازیتوب د محدودیت په تړاو د طالبانو له سختو پالیسیو سره سره د پرمختګ یوازینۍ لار سیاسي ښکیلتیا ده.  د یوناما د نوي شوي ماموریت په تړاو د امنیت شورا ته د ملګرو ملتونو د سرمنشي سپارښتنې د دې پالیسۍ پریکړه منعکسوي .موږ خوښ شو چې امنیت شورا موافقه وکړه. زموږ نوی ماموریت یوناما ته اجازه ورکوي چې په افغانستان کې پاتې شي او خپل فعالیت ته دوام ورکړي.

همغه ډول چې زه په افغانستان کې د یوناما د دوه کلنې رهبرۍ په اړه فکر کوم، زه په دې باور یم چې د یوناما شتون لږترلږه د دریو دلیلونو پراساس اړین دی. لومړی، موږ یو تاریخي میراث لرو. ملګري ملتونه د ۱۹۸۰ مې له وروستیو راهیسې په افغانستان کې سیاسي، حقوق بشري ، بشردوستانه او پرمختیایي حضور لري. موږ ځینې بریاوې او ځینې ناکامۍ درلودې چې په دې توګه موږ اخلاقي مسؤلیت لرو چې پاتې شو. دوهم، موږ اړیو چې د ډیرو زیانمنونکو افغانانو اړتیاوې د بشردوستانه مرستو له لارې حل کړو او ددوی د اساسي بشري اړتیاوو ملاتړ وکړو. دریم، افغانستان نړیوالې ټولنې ته دومره مهم دی چې هېریدی یې نه شي.

یوناما به د یو باوري څارونکي او په افغانستان کې د پېښو د رپوټ ورکونکي او د افغانانو، د واکمنو چارواکو او نړیوالې ټولنې تر منځ د باوري اړیکې په توګه پاتې شي. همدارنګه به دا د یو سمبول په توګه پاته وي چې افغان ولس بیا د نړۍ له خوا یوازې نه پرېښودل کیږي.

کله چې ما دا دنده ومنله، فکر مې نه کاوو چې داسې افغانستان به زه پرېږدم چې اوس یې وینم. زما زړه، په ځانګړې توګه د هغو میلیونونو افغان نجونو لپاره چې د زده کړو له حق څخه بې برخې شوي، او د هغو ډېرو با استعدادو افغان میرمنو له اړخه مات شوی چې د یوې ټولنې د بیا رغونې لپاره چې دا مهال پکې جګړه کمه ده خو البته په یو ډول د پخوا په څیر ډېره ویره لري، د دوی له وړتیا وو څخه د کار اخیستو پرځای ورته په کور کې د پاتې کیدو ویل شوي. د حیرانتیا خبره بیا داده، په داسې حالت کې چې هر چاته اوس د هیواد په بیارغونه کې د مرستې زمینه برابره ده، پرنیمایي نفوس محدودیت وضع شوی او په دغه کار کې ددوی د ګډون مخه نیول شوې.

دا یو ویاړ و چې د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې یوه میرمن د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې په توګه وټاکل شوه. دا د یوې میرمنې په توګه خورا دردناکه ده چې خپلې افغاني خویندې په داسې حالت کې پرېږدم چې دامهال ورسره لاس ګریوان دي. سره له دې چې زه ډاډمنه یم چې ترټولو ښه هیله د ښکیلتیا په یوه ستراتیژۍ کې ده چې واکمنو چارواکو ته ښیي، یو داسې سیستم چې ښځې، لږکي او باصلاحیته خلک پکې شتون ونلري، دوام نشي موندی، او په عین وخت کې ممکنه ده یو داسې سیاست رامینځته شي چې هم ټول شموله او هم اسلامي وي.

مشهوره خبره ده چې کله یو مسافر له افغانستانه لیدنه وکړي، نو له دغه هیواد سره یې روح وتړل شي، او باید بیرته ورستون شي ترڅو خپل ځان وګوري. زه له دغې وینا سره چې زما په ذهن کې ښکته پورته کیږي دغه هیواد پرېږدم.

* * *